# افغانستان آزاد ــ آزاد افغانستان

**AA-AA**

*چو کشور نباشد تن من مبـــــاد    بدین بوم و بر زنده یک تن مــــباد*

*همه سر به سر تن به کشتن دهیم    از آن به که کشور به دشمن دهیم*

**www.afgazad.com**    **afgazad@gmail.com**

| سیاسی | Political |
|---|---|



انجنير سيد عبدالقادر

۱۱/۰۱/۳۱


## اوباما بايد دډموکراسي نقا ب له مخه ليري کړي !

ــــ لوي کندهار داشغال په لمبو کي :

زما کندهاره بل ميرويس او احمد شاه مخ ته که    ږغ دهيبت دي پر وطن او هريخواه مخ ته که




دڅړي دولسوالي دخلکوکورونه ديرغلګر ځواک له خواه دخرابولو په حال کي ٠

او دکورني پاته غړي يي بيا دتهديدونوپه حال کي ليدل کيږي ٠











د ارغنداب دولسوالي دتره کو کلي ديرغلګر ځواک تر بمباردونو وروسته ۰

امريکايي هوايي ځواکونو دفرعوني تکبر په لرلو او دنړيوالو ټولو قبول سووقوانينو څخه په ښکاره سرلغړونه د ورځنيو جنايتونو تر څنګ ، بل تاريخي لوي جنايت هم تر سره کړي دی ، هغه داچې : دامريکايي وايرډ خپرونې دتازه رپوټ له مخې دي ځواکونو د ( ۲۵ زره کيلو ګرامه ) بمبونو په ذريعه دکندهار د ارغنداب دولسوالي دتره کو کلي په داسي حال کي ټوله دمنځه وړي دي ، چې نيژدي دوي مياشتي مخکي بيا په ژړي ولسوالي کي د امريکايي خبري شبکه( سي . بی . ايس . نيوز ) د ګلوبل پوسټ ورځپاڼی د راپور په حواله دسلګونو خلګو کورونه اود حاصلاتو پر وخت شنه باغونه بمبارد کړي ، او بيايي په بلدوزرونو باندي دمځکي سره برابر کړي دي۰ چې دجمهوري رياست دکميسون دبرسيو په نتيجه کي په ډاګه سول ، چې د دې درو ولسواليو خلګو ته يي دسلو ميلينو ډالرو تاوان وررسولي دي۰او هم په بل تازه راپور کي چې دارګ ماني خپور کړي دي ، دغزني ولايت دسردې دبند په سيمه کي ، دې يرغلي ځواکونو( څلور زره ) ونې دمنځه وړي دي۰ولې تر اوسه پوري دپورتنيو سختو تراجيديو تر څنګ بيا په کورنيو اونړيوالو رسنيوکي نه ده په ډاګه سوي ، چې ددې يرغلي وحشتونو په نتيجه کي څونه بي ګناه انسانان په شهادت رسيد لي دي ، داځکه چې ښکاره معلومه ده چې امريکا په سيمه کي د بشري جناياتو دپټولو له پاره پر کورنيو او نړيوالو ژور نالستانو باندي لاره بنده کړي ده ، چې دا خپله

دامریکا او غربي نړي د زور واکودقلابي ډموکراسي ښکاره بیلګه ده ۰ او دداسي وحشتناکه ضد انساني کړونو دخبر ونو په اوریدلو سره ټولو هغو افغانانو ته چې دخپل ولس او وطن سره مینه درلودله ، یو درد ونکي او بیساري تکان وو۰ ولي متاسفانه افغان ملي ګوندونه بیا هم دډ ټولو جنایاتو په وړاندي چپتیا بهتره بللي ، چې دا خپله ددوي دمرامي اهدافو څخه یوه ښکاره سر لغړونه ده ۰ ولي ډیر غیري ګوندي افغانانو بیا په ځانګړي توګه دروشنفکره قشرڅخه خپل تر منځ په دې فکر کي سول ، چې زموږ په وطن کي به دا یرغلي جنایات تر کومه ادامه ولري ، او دا یرغمل سوي ولس به څه وخت داشغالي منګولو څخه خلاصیږي ، او یو شمیر افغانانو ددې سختي لانجي دسیاسي حل له پاره خپلي هڅي نوري هم چټکي کړي ۰باید ووایو چې په کندهار دا د وحشت څخه ډک جنګي عملیات نیژدي دوي میاشتي مخکي دبشاماري ګزار تر نامه لاندي په داسي وخت کي شروع سول چې په هغه وخت کي امریکایي خبري شبکي ( آی . پي . ایس ) په خپل تازه راپور کي د هغه سروې په حواله چې د یوې خصوصي امریکایي مؤسسي لخوا سوې ، لیکي چې په کندهار کي ۹۴٪ خلک د طالبانو سره جنګ نه بلکي خبري اترې غواړي.

ښاغلي اوباما !

ستاسو په اند دابشري او اقتصادي جنایات چې دیرغلي ځواکونو له خواه زموږ په پاک وطن کي تر سره کیږي ، په کیمیاوي ، فاسفوریسي او یورانیمي سلاحو باندي موبي ګناه انسانان ، حیوانات ، نباتات او پاکه سالمه هوا دمنځه ځي ۰ چې دځینو مسلکي کارپوهانو په حواله نیژدي دوي برخي زموږ دوطن په هم دې سلاحو ککړي سوي دي ،آیا تاسو ددې کیمیاوي ، یورانیمي او ۰۰۰۰ سلاحو داستعمال دمخ نیوي په فکر کي یوه شیبه هم سوي یاست ؟ چې ددې غیر قانوني سلاحو استعمال په نړي کي مسلکي کارپوهانو یو نړیوال جنایت بللي دي ۰ چې منفي تاثیرات یي دنوو پیداسوو کوچنیانو باندي عملاً لیدل سوي دي ،آیاتاسو ته دبوش داداري له خواه څخه ستاسي د ځواکونو په ذریعه ددې جنایاتو تر سره کولو په اړوند کومه عیني او قانوني توجیه په مخ کي پرته ده ؟ که وي نو کومه توجیه ؟ او که بیا هم دبوش داداري هغه افسانوي د ( تروریزم او مخدره مواد پر ضد دمبارزي ) توجیه ده.
اودا هم هغسي غیر عیني او بشري ضد جوړه کړي توجیه ده ، لکه دعراق دکیمیاوي سلاحو غیر عیني توجیه چې دامریکایي یرغل په پایله کي په لکونو بي ګناه انسانان په شهادت رسیدلي او دعراق ډیربنارونه یي په کنډواله تبدیل کړي دي چې تر اوسه پوري دا تراجیدي لړي روانه ساتل سوي ده او یا پر ویتنام باندي د امریکا دوحشیانه تیري توجیه چې اصلا دویتنام دپوځ له خواه څخه هیڅ ډول حمله پر امریکایي سمندري کښتي باندي نه وه تر سره سوي ، ولي بیا هم دامریکا جمهور رئیس د ۱۹۶۴ کال په اګست کي دحملي دپیلیدو امر ورکړ۰ چې په پایله کي یي نه یوازي په ویتنام کي په لکونو بي ګناه انسانان وژل سوي ، او اقتصاد یي کنډو سوي بلکه امریکاته یي هم ډیر بشري او اقتصادي تلفات ورپه برخه کړل ۰ ځکه نو دبوش اداري هم پر افغانستان د یرغل له پاره دملګرو ملتونو دامنیت دشوراڅخه هیڅ ډول اجازه تر لاسه نکړه ، چې د هغه په نتیجه کي دې په افغانستان کي دطالبانو حاکمیت راچپه او خپل لاس پوڅي رژیم دې دخپلو نا پاکو مخو له پاره رامنځ ته کړي ۰دا ځکه چې ملګري ملتونه هم دحقوقي پلوه داحق نلري ، چې دیوه مملکت حاکمیت دې دبل حاکمیت په واسطه راچپه کړي ۰

ښاغلي اوباما!

که زه ستاسو څخه یوه پوښتنه وکړم ، چې تاسو نیژدي یوکال مخکي دیوي امریکایي خپروني سره په یوه مصاحبه کي ویلي وه چې :( که زه په خپل کور کي دخپلي کورني دغړو سره دشپي آرام په خوب کي بیده یم ، او نابېره زموږ پر کور کوم راکیټ وموښلي او زما ماشومان نا آرامه کړي نو زما چې هر څه په وس پوره وي هغه به تر

سره کړم ۰) زما په اند دا ستاسو يو طبعي حق دي چی دځان او خپلي کورني دفاع وکړي ۰ ولي متأسفانه چی نيژدي دنهوو کلونو راهيسي په افغانستان کي ستاسو يرغلي ځواکونو افغاني ( ماشومان ، ښځي ، زاړه او ځوانان ) دشپي په خوا ږه خوب کي ډير شمير په شهادت رسولي او ډير شمير يي بيا زخميان کړي ، او دژوند هر څه يي ور برباد کړي ، ولي په نامه دا نړيواله ټولنه بيا ودوي ته دځان او دکورني ددفاع حق نه ورکوي ، او پر دوي باندي بيا دترهګرو نومونه ايږدي ۰ آيا دا نو ستاسو اود نړيوال ائتلاف بشري قضاوت دي ، چی دافغانانو په وړاندي تر سره کوي ؟

اوباما!

زموږ په وطن کي ستاسو ديرغلي ځواکونو داوو کلونو دبشري جناياتو دوحشت او ټولونړيوالو قبول سوو قوانينو څخه دښکاره سرلغړونو تصويري انځور ستا سو د تبليغاتي کمپاين پر مهال دبرلين په لوي ميدان کښي د يو شمير افغاني ماشومانو، ښځو او ځوانانوپه لاس پر لويو پست کارتونو باندي ستاسو دبيانيي دآوريدونکو په منځ کي وتاسوته ښکاره کړ ، او ددي وځنګ ته يي ستاسو څخه غوښتنه داهم وه ، چی تاسوبايد نور دبوش پر لاره ولاړ نه سي ، اوزموږ په وطن کي دی بشري او اقتصادي جناياتو ته نور دپاي ټکي کښيږدي ،او افغان ولس آزاد پريږدي ۰ او وروسته بيا تاسو وعربي نړي ته په يوه سفر کي دمصر دالا ظهرپه پوهنتون کی چی په ځانګړي توګه و اسلامی نړي ته يو خطاب وو، لويه بيانيه ورکړه ، چی په رشتيا سره ستاسو په وينا کي داسي څه شتون درلودلي چی اسلامي هيوادونو په ځانګړي توګه دامريکا تر اشغال لاندي هيوادونو ولسونه ديو لږ وخت له پاره ډير په خوښ سول ۰ دا ځکه تاسو دوينا په يوه برخه کي ويلي وه ، چی هيڅ يو حاکميت حق نه لري ، چی پر بل ملت باندي حاکميت تحميل کړي ، او هم داسي نوري ښکلي سياسي خبري۰او دا ولسونه ټول په دي فکر کي وه چی تاسوخو حقوق پوه ياست ، حتمي مو دحقوقو په لوستلو کي بشري حقوق لوستي دي ، او تر ډيرو جمهور رئيسانو به تاسوډيردبشر په حقوقو باندي پوهيږي ، چی دنړي دهر ګوټ بشر دمساوي حقوقو لرونکي دي ۰ ولي وروسته معلومه سوله چی ستاسو هغه خوږي خبري پرهغه سټيژ باد يووړي ۰اوداسلامی هيوادنو دولسونو حتا دغربي نړي دولسونو هيلي مو دناهيلي سره مخامخ کړي ۰ او دامريکا تر اشغال لاندي هيوادونو کښي بيا هم دولسونو په وړاندي د بشري جناياتولړي حتا دبوش تر دورو هم په لوړه کچه ادامه پيدا کړه ، اودا جمعي بشري جنايات چی ستاسو دولس مشري په دووکلونو کي دائتلاف يرغلي ځواکونو په افغانستان کښي تر سره کړي دي ، دبوش داتو کالو په دوره کښي په دي لويه کچه نه دي تر سره سوي ۰ دا ځکه چی ستاسو په دې دوره کښي امريکايي ځواکونو په لوي کندهار کښي ډيري سيمي په کيمياوي او يورانيمي بمبونو وراني کړي ، انسانان او حيوانات تر لاندي سوي ، اود ځينو لويو سيمو دخلګو کورونه اود حاصلاتو پر وخت ولاړ باغونه او ويا لي يي حتا په بلدوزرونو باندي خرابي کړي دي ، اوددي کړاونو څخه پاته ژوندي خلګ ( ښځي ، ماشومان ، زاړه او ځوانان ) يي تر آسمان لاندي پر وچه مځکه باندي هک پک پري ايښي دي ۰

ښاغلي اوباما!

داسي معلوميږي چی امريکا نورو هغو مخو ته چی افغانستان يي دوسيلي په حيث ورته اشغال کړي دي ، رسيدلاي نه سي ۰ دا ځکه هغه طلايي خوبونه چی بوش او دده دتيلو هم ګټو واکمنانو ليد لي وه ، چی ډير ژر به د کسپين دبحيري د تيلو او ګاز ودتوزيع واک به په خپل اختيارکي راولي او دسيمي څخه به دروسيي او چين دپرمختګ مخه نيسي ۰ ځکه نوددي کار له پاره يي لومړي دمرکزي اسياه په ځينوهيوادونو او اوکراين کښي يوپه بل پسي بخملي او نارنجي په اصطلاح انقلابونه راوستل ، او نا پاک ترين انسانان يي وقدرت ته ورسول ۰ چی وروسته يي بيا

دتروريزم او مخدره موادو پر ضد دمبارزي په پلمه دمرکزي آسياه په ځينو هيوادونو کښي نظامي پايګاوي هم جوړي کړي ۰ ولي داپروسه ډير ژر دخلکو او په ځانګړي توګه دروسيي دغير مستقيم غبرګونونو سره مخا مخ سول ۰چې په پايله کې يې په ازبکستان کې دامريکا نظامی اډه د ازبکستان د( ايندي ژان ) په ښار کې دګډوډيو اوپه ازبکستان کي دراتلونکي سياسي بحران دمخ نيوي لـه پاره دازبکستا ن پارلمـان پريکره وکړه ، چـې دا مريکا نظامی اډه دې ددرو مياشتو په موده کې دې وتړل سي ۰ چې په غبرګون کې بيا بوش ددوي دا پريکړه يو احمقانه عمل وبلي ۰ او په قرقيزستان کـې بيا دامريکااو روسيې نظامي اډي دځينو کارپوهانو په نظر دواشنګټن او مسکو دتشويش وړ ګرځيدلي دي ۰ او ددې وځنګ ته داوسني دولت اکثريت چاروا‌کي هم سخت روسي پلوه دي ۰ بل لوي هيواد چې امريکا او هم روسيي تـه دلوي اهميت وړ وو ، هغه داوکراين هيواد دي چـې نيژدي ۵۵ ميليونـه نفوس لري ، او ددې جملي څخه بيا ۴۰ فيصده روسان دي ۰ چـې پـه اوس مهـال کـې عملاً امريکا دلاسه ورکړي ، او دروسانو وغير ته لويدلي دي ۰ځکه نو ويلايسو چې دبوش داداري تولي هڅې نـه يوازي دامريکا وران اقتصاد دناکامی سره مخ کړي دي ، بلکه د شا نکاي د ترون واکمنو غړو هم دامريکا دا تولي هڅي په ډير دقت تر څارني لاندي نيولي ، او يو په بل پسي يي په غير مستقيم ډول دناکامی سره مخامخ کړي او کوي يي ۰ دبلـه طرفـه دا لوبـه په داسي وخت کي مخ تـه بيول کيږي چې دنړي ځيني مسلکي کار پوهان دنړيوال بي ساري مالي او اقتصادي بحران په نظر کي نيولو سره دامريکا دامپراتوري دزوال په هکله داسي وړاند وينـي کـوي ۰ لکـه الفردويليام مک کوي چې د امريکي د (وسکن سين) په پوهنتون کې د تاريخ پروفيسر دی، په خپلـه نوې مقالـه کـې ليکي ، چې د امريکي د امپراتورۍ نسکوريدل رانږدې شوي. د ده په وينا د يوه زبر ځواک په توګه د امريکي نسکوريدل تر هغې ډير نږدې دي ، چې تاسو يې فکر کوئ. د ده د اټکل لـه مخـي امريکا بـه د يوه زبر ځواک پـه توګـه تر ۲۰۲۵ کال پوري نسکوره شي ۰

بايد ووايو چې په اوس مهال کي دمنطقي سياسي حالت دا په ګوتـه کوي چـې امريکا ددې جنګ نـا کـامي احساس کړي ، او غواړي چې دا دناکامي دروند پيټي په يوه سياسي چل سره دروسيي پر اوړو بانـدي هم کښيږدي ۰ او داسي معلوميږي چې په اوسنـي وخت کـې داچل دامريکا د ستراتيژي يو عمده اړخ جوړوي ، هغه داچـې امريکا غواړي دکرزي اداره بايد په ډير سرعت سره روسيي ته ځان ديونوي ستراتيژيک دوست پـه ډول څرګند اوددې وځنګ ته ډير ژر اقتصادي او نظامي مناسبات ورسره ټينګ کړي چې پـه پايلـه کـې بـه دروسيي اعتماد راجلب کړي ۰ چې وروسيي ته دکرزي وروستني سفر دا هرڅه پـه داګه کړل ۰( ګرچي دکرزي ددې سفر پـه هکلـه پـه کابل کي دامريکا دسفير څرګندوني داسي وي چې : کرزي دا سفر په افغانستان کي دنړيوالو دمشوري پرتـه تر سره کړي دي ۰ ولي واقعيت خو داد ي چی په ځينو وختونو کـې اشغالګر قدرتونـه دولسونو داعتماد دجلبولو لـه پاره زرګري «مصاحبي او لفظي جنګونـه » دخپلو لاس پوڅو سره هم کوي )۰ اوس نـو بايد ووايـو چـې دداسي نـوو دوستانه اړيکو څخه وروسته بيا امريکا دکرزي داداري لـه خواه څخه پـه اسانـي کولايسي ، چـې روسيه ودې تـه وهڅوي چې په منطقه کي دامنيت دراوستلو له پاره دناټو تر څنګ خپلي نظامی قواوي ودې هيواد تـه راوليږي ۰ چې په پايله کي به دروسيي پښه هم په دې لومه کي دامريکاسره يو ځاي بنده او دمنطقي سياسي او نظامی حالات به د کرکيچن حالتونو نـوي بڼه واخلي ، او دشانکاي دترون ګټي بـه هم دسختو ګواښونو سره مخامخ او جوړکړي پلانونه به يي وشاته وغورځوي ۰ په داسي حال کي چې روسانو دا لومه دېخواه څخه هم تصور کړي ده ،ځکه نو دروسيي صدراعظم ( پوتين ) دديسمبر پر( ۳ ــ ۲۰۱۰ ) د(سي ان ان ) دامريکايي تلويزيوني شبکي سره پـه يوه لنډه مصاحبه کي داسي ويلي دي ۰ (روسيه نمي تواند در افغانستان حضور نظامي داشته باشد ۰ وي خاطر نشان

كرد : روسيه از راه هاي  مختلف از اقدامات نيروهاي ائتلاف بين المللي در افغانستان وحكومت اين كشور حمايت وپشتيباني مي كند ۰)

دبله طرفه بيا داسي ښكاري چې روسيه كوښښ كوي په دې لومه كي امريكا دناټو سره يوځاي نوره هم بنده وساتي ، ځكه نو روسيي و امريكا او دناټو يو شمير غړو ته دخپلي خاوري نه وافغانستان ته ددوي د  نظامي اونور و لوجيستيكي اكمالاتو دپوره كيدو لاره  هواره كړي ده ۰

په وروستي برخه كي بايد ووايو چې دا سياسي لوبه چې نيژدي ددرو لسيزوپه ځانګړي توګه دساړه جنګ څخه وروسته  دلويوقدرتونو له خواه  دخپلو ګټو له پاره زمونږ دمظلوم ولس په وطن كي  مخ ته بيول كيږي ، لوبه كه هر لوري وړي ولي د جنګ دميدان دبشري او اقتصادي تلفاتو لو ي پيټي بيا هم زمونږ دولس پر اوږو اچول كيږي ۰ چې دا يو ښكاره حقيقت دي ځكه نو ټول افغان سياسي ملي ګوندونو او په مجموع كي دټولو روشنفكرانو ايماني او وجداني وظيفه ده ، چې خپل تر منځ د يو ژر تفاهم په پايله كي  ددې  اشغال ته دپاي دټكي ايښوولو له پاره ونړيوالوته دسيا سي حل د يو دقيق ميكانيزم  وړانديز وړاندي كړي ۰

تمت بالخير